د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

د ښوونې او روزنې پوهنځی

د ستراتیژیک پلان فرعي کمېټه

# د پوهنځی د ۱۴۰۲ ل ل کال د تطبیقي پلان د ثار کلنی راپور

**تحصیلي کال: ۱۴۰۲ل ل**

## د موضوعاتو لړلیک


**سریزه......1**

**د راپور غورچاڼ......1**

**جزیاتي راپور......2**

**تحلیلي او پرتله ایز چارتونه؛......7**

**1 چارت: د پلان سویو او تر سره سویو پروګرامونه احصایه راښیي. ......7**

**نیمګړتیاوي، لاسته راوړني او وړاندیزونه......8**

الف؛ نیمګړتیاوي ......**8**

ب: لاسته راوړني:......**8**

ج: وړاندیزونه ......**8**

**د راپور تاییدي......9**

د ښووني او روزني پوهنځی د تطبیقي پلان د ۱۴۰۲ ل ل کال د څار کلنی راپور

## سریزه

ستراتیژیک اهداف د پوهنځی هغه اهداف دي، چې د پوهنځی د راتلونکي سرنوشت سره سرو کار لري او د پوهنځی ټولي لاسته راوړني د ستراتیژیک پلان د تطبیق څخه لاسته راځي، دا چې ستراتیژیک پلان د پوهنځی له دوره مهم فکتور څخه ګڼل کیږي، نو باید د یادي برخي د تطبیق څارنه او ارزونه هم وخت په وخت د پلان مطابق تر سره سي. چې د پوهنځی اهداف پر خپل ټاکلي وخت تر لاسه سي.

د یادي برخي د بشپړولو لپارهخ د ښووني او روزني پوهنځی د پوهنځی په کچه د ستراتیژیک پلان د څار کمېټه او هیئت ټاکلی دی، چې د یو منظم او معیاري ټاکل سوي چیک لیست له مخي د پوهنځی د ستراتیژیک پلان څار او نظارت تر سره کړي.

د نظارت په نتیجه کي د پوهنځی رهبري، کارمندانو او استادانو ته د کارونو د تر سره کولو په موخه وړاندیزونه وکړي تر څو د هري برخي فعالیت پر خپل ټاکلي وخت تر سره کړي. او په هغو برخو کي چې ستونزي موجودي دي ورته په نښه او ورته د زیاتي توجو غوښتنه وکړي.

د څار او نظارت د هیئت په مرسته موږ کولای سو د پوهنځی د ستراتیژیک پلان د تطبیق اندازه معومه کړو، چې د ربعي/ کال په جریان کي څومره پرمختګ رامنته سوی دی او یا هم د ستراتیژیک پلان د تطبیق پر وړاندي څومره خنډونه شتون لري او د لري کولو لپاره یې باید کوم اقدامات تر سره سی. تر هدف پر ټاکلي وخت د پلان مطابق په بشپړ ډول لاسته راوړل سي.

د ښووني او رزوني پوهنځی په ۱۴۰۱ کال کي خپل لومړی ستراتیژیک پلان چمتو کړ چې په کښې د لوړو زده کړو وزرات او بُست پوهنتون اکاډمیکو ارزښتونو او موخو ته په کتو د زیربتا، علمي څېړنو، ښه حکومتولی، ټولني سره مرستي او ټکنالوژیکي پرمختګ  مقاصدو ته په کتو سره ۱۵ بېلابیل پروګرامونه د پنځو کلونو لپاره پلان سوي دي.

نوموړی پلان د ستراتیژیک پلان د معیارونو مطابق د رښتیني مالوماتو او پلټنو پر بنسټ چمتو سوی چې د ۱۴۰۱ څخه تر ۱۴۰۵ پوري به یې اهداف علمي سي.

## د راپور غورچاڼ

A. **د ۱۴۰۲ کال په تطبیقي پلان کي ټولټال ۱۵ پروګرامونه پلان سوي چې له هغې جملې څخه ۷ پروګرامونه په بشپړ ډول تر سره سوي دي.**
B. **د همدې ۱۵ پروګرامونو له جملې څخه ۲ پروګرامونه یې په نسبي ډول تر سره سوي دي.**
C. **د همدې ۱۵ پلان سویو پروګرامونو څخه ۶ هغه پروګرامونه دیي چې هیڅ کار نه دی ورته سوی.**

D. **د دي پروګرامونو د نه پیلیدلو لاملونه د شرایطو نه مساعداوالی او د ځنیو امکاناتو نه شتون په ډاګه سوی.**

E. **دا چي د پوهنځی بودیجه د پوهنتون د مرکزي بودیجې یوه برخه ده او ځانګړي بودیجه نه لري، د پروګرامونو مصاف د پوهنتون له خوا د نورو برخو سره په مجموعي ډول تادیه سوي، نو ځکه د هر پروګرام د بودیجې د مصرف دقیقه سلنه سنجول ګران کار وو.**

## جزیاتي راپور

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړی ربعي پرمخګ کچه (په سلنه ٪) | د دوهمي ربعي د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د درمي ربعي د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د څلورمي ربعي د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجي وضعیت (مصرف سوي / اضافه سوي / کسر لري) | د بودیجي د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړني/ توضیحات | عمده ستونزي او چالشونه | وراندیز / تصمیم |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| 1 | د ظرفیتونو لوړول | د حمل څخه د اسد میاشتي تر پایه | بلي | 50% | 50% | 0 | 0 | 100% | اضافه سوي | \| | د پوهنتون د ارزوني او دریم پړاو د ځان ارزوني د چیک لیست مطابق د پوهنځی په مستندانو او چارو کي د پام وړ مثبت تغیر راغلی. | د پوهنځی لپاره د منظمي بودیجې نه موجودیت د کادري پرسونل کم بود، د پوهنځی او ځانګي مسولیت د نفرد پر غاړه دی. | — |
| 2 | د علمي څېړنو تر سره کول. | د حمل څخه د جوزا میاشتي تر پایه | نه | 0 | 0 | 0 | 0 | 0% | اضافه سوي | \| | — | د استادانو نا اشنایي، د علاقې نه شتون او د کادري استادانو کمبود د دې باعث ګرځیدلی چي دا بهیر ټکنی مخته ځي | په ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان کي ځای پر ځای سي. |

د ښوونې او روزنې پوهنځی د تطبیقي پلان د ۱۴۰۲ ل ل کال د څار کلنی راپور

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړی ربعي پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د دوهمي ربعي پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د درمي ربعي پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د څلورمي ربعي د پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت<br>مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړني/ توضیحات | عمده ستونزي او چالشونه | وړاندیز / تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | د ټکنالوژۍ څخه استفاده | دوامداره | بلي | 25% | 25% | 25% | 25% | 100. % | اضافه سوې | \| | د تدریس لپاره د تکنالوژۍ څخه استفاده سوې. | — | — |
| 4 | د فزیکي او برېښنايي کتابتون غني کول | دوامداره | بلي | 0 | 100% | 0 | 0 | 100% | مصرف سوې | \| | د استادانو او محصلانو د مطالعي ساحه پراخه سوې ده او مسلکي او هم د ازادي مطالعې کتابونه راوړل سوي دي. | — | — |
| 5 | برېښنايي زده کړو ته پراختیا ورکول | دوامداره | نه | \| | — | — | — | 0% | اضافه سوې | \| | — | د داسي برنامو لپاره زمینه په دي کال کي نه ده مساعده سوې | په ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان کي ځای پر ځای سي. |
| 6 | د لاسلیک سویو تفاهم لیکونو د مادو تطبیق کول | دوامداره | بلي | 10% | 40% | 20% | 30% | 100% | مصرف سوې | \| | د بېلابېلو اداراتو سره د لاسلیک سویو هوکړه لیکونو له مخي ګډ فعالیتونه تر سره سوي دي. | — | — |

د ښووني او روزني پوهنځی د تطبیقي پلان د ۱۴۰۲ ل ل کال د څار کلنی راپور

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعي پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د دوهمي ربعي پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د درمي ربعي پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د څلورمي ربعي پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجي وضعیت (مصرف سوي / اضافه سوي / کسر لري) | د بودیجي د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړني/ توضیحات | عمده ستونزي او چالشونه | وړاندیز / تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 7 | د بشري سرچینو د اړتیاوو رفع کول | دوامداره | نه | 0 | 100% | 0 | 0 | 100% | مصرف سوي | \| | د پروګرام او اړتیا مطابق بشري قوه استخدام سوي ده. | — | — |
| 8 | ستاینغونډې (تشویقي) پروګرامونه دایرول. | د هر سمستر وروسته | بلي | 0 | 50% | 0 | 0 | 50% | اضافه سوي | \| | د سمستر غوره محصلانو ته نماځغونډه نیول سوي ده او ستاینلیکونه او تحفې ورکړل سوي دي. | مرکز کابل ته د سفر له امله نه وه نماځل وي. | په راتلونکي کال کي يي نمانځل د پلان برخه ده. |
| 9 | د محصل د نړیوالي ورځي نمانځل. | د عقرب ۲۵ | بلي | 0 | 0 | 100% | 0 | 100% | مصرف سوي | \| | د پوهنځی په کچه د کال غوره محصل د تشویق په موخه ستایل سوی دی. | — | — |
| 10 | د تفاهم لیکونو لاسلیک کول. | دوامداره | نه | 0 | 0 | 0 | 0 | 0% | اضافه سوي | \| | — | د ښووني او روزني په برخه د استادانو د روزني امریت سره هوکړه لیک پاته وو، خو هغه لغوه سو. | — |

# د ښووني او روزني پوهنځی د تطبیقي پلان د ۱۴۰۲ ل ل کال د څار کلنی راپور

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړی ربعي پرمختګ کچه | د دوهمي ربعي پرمختګ کچه | د درمي ربعي پرمختګ کچه | د څلورمي ربعي د پرمختګ کچه | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړني/ توضیحات | عمده ستونزي او چالشونه | وړاندیز / تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | | مصرف سوي / اضافه سوي / کسر لري | | | | |
| 11 | د نویو څانګو ایجادول | دوامداره | نه | 0 | 0 | 0 | 0 | 0% | اضافه سوي | — | — | په پوهنه کې د علاقې د نه شتون له امله ونه توانېدلو تر څو نوري څانګي فعاله کړو. | په نوي کال کې په پلان کې ځای پر ځای سي. |
| 12 | د کیفیت تضمین د خدماتو پیاوړي کول د پوهنتون اکاډمیک اعتبار اخیستلو په موخه | دوامداره | بلي | 40% | 40% | 10% | 10% | 100% | اضافه سوي | — | د پوهنتون د دریېم پړاوو د ځان ارزوني په موخه د پوهنځی مستندات چمتو سوي او ترتیب سوي دي. | د بشري قوي کمبود. | تر اعتبار اخیستني وروسته د نیمګړتیاوو رفعه کول. |
| 13 | د علمي تالیفاتو تر سره کول | دوامداره | نه | 0 | 0 | 0 | 0 | 0% | اضافه سوي | — | — | د استادانو نا اشنايي، د امکاناتو او بودجي کمبود. | په ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان کې ځای پر ځای سي. |
| 14 | د علمي ژباړو ترسره کول. | دوامداره | نه | 0 | 0 | 0 | 0 | 0% | اضافه سوي | — | — | د استادانو نا اشنايي، د امکاناتو او بودجي کمبود. | په ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان کې ځای پر ځای سي. |

## د ښوونې او روزنې پوهنځی د تطبیقي پلان د ۱۴۰۲ ل ل کال د څار کلنی راپور

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړی ربعي پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د دوهمي ربعي پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د درمي ربعي پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د څلورمي ربعي پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت<br>مصرف سوي<br>اضافه سوي<br>کسر لري | د بودیجي د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړني/ توضیحات | عمده ستونزي او چالشونه | وړاندیز / تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 15 | د محصلینو د جذب زیاتوالي | دوامداره | بلي | 0 | 50% | 0 | 0 | 50% | اضافه سوي | — | د ۱۴۰۲ کال په منه یي سمستر کي ۲۳ تنه جذب سوي دي. | په ټولنه کي د زده کړو سره د علاقې کمبود. | د جذب لپاره باید بېلابیل پروګرامونه تر سره سي. |
| | مجموعي نتیجه | د ټول کال په جریان کي | له ۱۵ څخه ۷ فعالیته بشپړ تر سره سوي دي، ۲ په نسبي او ٦ فعالیته نه دي تر سره سوي. | | | | | 60% سلنه پلان تطبیق سوی او 40 سلنه پاته دی. | اضافه سوي | \| | تر سره سویو پروګرامونو ښه موثریت درلود او د هدف په لاسته راوړلو کي ډېر مؤثریت لري. | د بودیجې کمښت، د سټاپ کمبود، د دایمي استادانو کمبود، مصورفیتونه او د ټولني غیر مساعد شرایط اصلي خنډونه وه | کوښښ کیږي چي د ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان کي موثرو پروګرامونو ته ادامه ورکړل سي او د امکان په صورت کي د ۱۴۰۲ کال پاته پروګرامونه هم تطبیق سي. |

## تحليلي او پرتله ايز چارتونه؛

1 چارټ: د پلان سويو او تر سره سويو پروګرامونه احصايه راښيي.




| | پلان سوي فعاليتونه | بشپړ تر سره سوي فعاليتونه | نسبي تر سره سوي فعاليتونه | پاته (نه تر سره سوي فعاليتونه) |
|---|---|---|---|---|
| Series 1 | 15 | 7 | 2 | 6 |

## نیمګړتیاوي، لاسته راوړني او وړاندیزونه

### الف؛ نیمګړتیاوي

I. د ټول پوهنځی چاري د یو تن ( د پوهنځی ریاست او د ځانګي امریت) لخوا پر مخ وړل کیږي.

II. د پوهنځی د ستراتیژیک پلان لپاره ځانګړې او مخصوصه بودیجه نه وه ورکول سوې.

III. د پوهنځی د بشري سرچینو تعداد کم او د ځینو پروګرامنو د پیلولو لپاره کافي امکانات نه وه.

IV. د دایمي استادانو کمبود او د کادري سیستم نه موجودیت د دې لامل سوې تر څو د علمي پراختیا پروګرام په مکمل ډول تطبیق سوی نه دی.

V. د معنوي امتیازاتو د نه شتون له امله د علمي څېړنو نه شتون.

VI. د نا اشنایي او علاقي د نه شتون له امله د علمي څېړنو، ژباړو او تالیفاتو نه شتون.

VII. د پوهنتون د رهبری له خوا د پوهنځی د ستراتیژیک پلان د تطبیق په برخه کي کمه حمایه د ځینو پروګرامونو د ځنډ او ځنډ لامل سوې ده.

### ب: لاسته راوړني:

I. تېرو کلونو ته د محصلینو د جذب پروګرام په نسبتاً ښه وو، که هم په دواړو سمسترونو کي جذب شتون نه درلودی.

II. که څه هم فعالیتونه په مکمل ډول نه دي تر سره سوي ولي تر سوي برخي یې د پلان مطابق وې.

III. امکاناتو او منابعو ته په کتو سره پوهنځی توانېدلې چي نږدې 60 سلنه اهداف لاسته راوړي.

### ج: وړاندیزونه

**I. د پوهنځی اداري او کادري پرسونل زیات کړل سي او یادي و موجوده پرسونل ته مسولیتونه و وېشل سي او ظرفیتونه دې لوړ سي.**

**II. د پوهنځی لپاره د پوهنتون د بودیجې په چوکاټ کي مخصوصه بودیجه د ستراتیژیکو اهدافو لاسته راوړلو په منظور مشخصه سي.**

**III. هغه پروګرامونه چي نیمګړي پاته دي او یا هم نه دي پیل سوي، د ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان کي ځای پر ځای سي.**

**IV. د پوهنتون د رهبری له خوا پوهنځی ته اړین امکانات او منابع په اختیار کي ورکړل سي.**

## د راپور تاييدي

**د ستراتيژيک پلان د څار کمېټې د هيئت غړو تائيد:**

**نقيب الله حمزه د څار هيئت مشر**

**لاسليک:....................................................**

**نوماند پوهنيار اسدالله سمسور د څار د هيئت غړی**

**لاسليک:............................................**

**عبدالوارث صمدي د څار د هيئت غړی**

**لاسليک:................................................**

**پورته راپور د ستراتيژيک پلان د فرعي کمېټې د (    /    /۱۴۰۳) نېټې په (    ) ګڼه غونډه کې تاييد سو.**

**د کمېټې د مسؤل لاسليک:...............................**

**پورته راپور د پوهنځی د علمي شورا د (    /    /۱۴۰۳) نېټې په (    ) ګڼه غونډه کې تاييد سو.**

**د علمي شورا د مسؤل لاسليک:.............................او مُهر:.................................**

**پورته راپور د پوهنتون د علمي شورا د (    /    /۱۴۰۳) نېټې په (    ) ګڼه غونډه کې تاييد سو.**

**د پوهنتون د علمي شورا د مسؤل لاسليک:............................او مُهر:.................................**